بسم الله الرحمن الرحیم

# په غزه کې د ماشومانو لپاره د واکسينو پروګرامونه فعال دي؛ خو د خوړو، درملو او تیلو لارې بندې دي

**خبر:**

ټيليګراف راپور ورکوي چې يونيسف د ماشومتوب دورې ناروغيو خپرېدو د مخنيوي لپاره غزې ته نيم ميليون واکسين ليږلي. ملګري ملتونه د غزې د ۱.۹ ميليونو داخلي بېځايه شويو ترمنځ د ناروغيو د خپرېدو د ګواښ خبرداری ورکړی.

**تبصره:**

دې ته په کتو چې د ملګرو ملتونو سازمان د بشري حقونو په برخه کې د خپلو ټولو پاليسيو په پلي کولو کې پاتې راغلی او نه دی توانېدلی چې د ښځو، ماشومانو، کډوالو، ملکي وګړو، ژوو او د ژوند چاپيريال ساتنه وکړي. نو بايد غور وشي چې دا ناڅاپي اقدام، چې له کوم خنډ پرته غزې ته واکسين رسېږي او ورکول کېږي؛ دا به د غزې د ماشومانو د وژلو بهېر نور هم چټک کړي. کله چې کيمياوي وسلې او ډليز وژونکي بمونه ټول ښار په سپيره ځمکه بدلوي، هغه وخت د روغتيا او خونديتوب هېڅ اندېښنه ورسره نه وي.

د غزې نسل‌وژنه د نړۍ په تاريخ کې د بشريت پر وړاندې ترټولو پراخ مستند شوی تېری دی. د ترسره شويو وحشتونو د شواهدو هېڅ کمی نشته او هېڅ ډول د غزې پر سرکونو د وژل شوو ماشومانو د بدن غړي نه شئ ردولی. سره له دې د ملګرو ملتونو، چې د «سولې» او «عدالت» غوښتنه کوي، خواشينوونکی لومړيتوب د واکسينونو لېږل دي. په دې کې هېڅ شک نشته چې دا د دوی بله بيولوژيکي تجربه ده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د امت د وژلو لپاره به د نوې وسلې په توګه کار کوي.

موږ په دغه کاذبه بشردوستانه هڅه نه غولېږو. موږ پوهېږو چې يوازې خلافت د بشري حقونو د ساتنې لپاره په خپل ماموريت کې ريښتينی دی او په دې کې د حرص او مالي او مادي موخو اجنډا نه لري.

موږ له امت څخه غواړو چې د اسلامي خاورو حکام د مسلمانانو پر وړاندې د جنايتونو د ترسره کېدو او په غزه کې د دغو کاذبو واکسينو د نه مخنيوي لپاره محاسبه کړي؛ موږ د فلسطين د قضيې لپاره د خبرو اترو په

چوکاټ کې د هغوی نامشروع حللارې ردوو، دا د اسلام د دښمنانو ملګرتیا او د هغوی په ګټه کار کول دي. الله سبحانه وتعالی په خپلو مبارکو ایتونو کې موږ ته د نړۍ له ظالمانو سره د سولې د کاذبو او درواغجنو پلانونو په اړه خبرداری راکړی؛ هغه سبحانه وتعالی فرمایي:

**«وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ قَالُواْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ * أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَـكِن لاَّ يَشْعُرُونَ»**[البقره:۱۱-۱۲]

**ژباړه:** *«کله چې هغوی ته وویل شي، په ځمکه کې فساد مه کوئ، نو هغوی وايي، موږ خو اصلاح کوونکي یو. خبردار اوسئ! په حقیقت کې همدوی مفسدین دي خو شعور نه لري.»*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عمرانه محمد**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د رجب ۸مه**

**۲۰۲۴م کال، د جنوري ۲۰مه**